# د فلسفې او ادب تر مينځ شخړه او هم اهنګي

# Similarities and Differences b/w philosophy & Literature

Habibullah Kakar*

**Abstract**:

*The existence of god Apollo and goddess Muse in the Greek mythologies reflects the poetic and literary nature of the ancient Greeks. The sudden rise of philosophy, exploring the world from a natural perspective in contrast to that religio-poetic supra-natural worldview, gave birth to Socrates as a Gadfly in Athens. His objections developed a quarrel between philosophy and literature in the writings of Plato, drawing a separating line between the two disciplines. The Poetics of Aristotle reasserted its value on one side and taught the way to good creation on the other one. Ptolemy Soter's pluralist Alexandria brought the Eastern Hindu and Zoroastrian mystical thoughts within philosophical framework, from where the Cladius Ptolemy made a way to the Plotinus's Neo-Platonism. Plotinus's Enneads through Porphyry inspired the whole Jewish, Christian and Muslim philosophical writing in Middle Ages. Here for the philosophical type of mystics, and for their esoteric ideas, literature especially poetry becomes an influential tool of expression. The same nature of poetry taught the humanistic philosophy side-by-side with philosophy during the renaissance till the modernism separated philosophy from natural and social science as well as from literature and poetry, limiting it to the epistemology. In the modern writings of Kierkegard, Friedrich Nitzsche Robert Creeley, William Shakespeare, Leo Tolstoy and Jean Paul Sarter, influencing philosophy by literature and literature and poetry by philosophy and expressing them in each other's forms ended the so-called quarrel between philosophy and literature.*

* PhD. Scholar, Dept. of Islamic Studies, International Islamic University, Islamabad

برټرنډرسل وئیلي ؤ چې د تاریخ په څېړنه کښې هیڅ یو شی هم دومره اریانونکی او مشکل نۀ دی چې په بشپړه توګه و سپړل شي لکه په یونان کښې د (نوي فلسفې) تهذیب ناڅاپه پورته کېدنه. رسل زیاتوي چې د مصر او میسوپوټېمیا* په کلتور کښې هر هغه څۀ شتون درلود کم څۀ چې د تهذیب لاژمي عنصر بلل کېږي، خوکومبړ یې یونان ډک کړ. د آرټ او ادب په ډګر کښې چې لرغوني یونان څۀ درلود هغه خو هر چاته پته ده خو کم څۀ چې یوناني تهذیب د عقل او پوهې په ډګر کښې وکړ هغه له دې مستثنا دي (Russell, 1996). د رسل د ادب او فلسفې ترمنځ غیر ارادي توپیر زما په خیال د فلسفې او ادب تر مینځ حقیقي توپیر ته اشاره ده، هغه په دې چې په یوناني داستانونو کښې اپالو خدای له پخوا وجود درلود، د اېسکېلوس (555قبل میلاد) سوفوکلیس (497 قبل میلاد) او یوریپایډیس (480قبل میلاد) ډرامه نګاري (E. D. A. Morshead, E. H. Plumptre, B. B Rogers, 2009) د لرغوني اېتهنز په کانسرټ کښې د هومر (700 قبل میلاد) غوندي شاعرانو د شاعرانه تاریخ ارتقاء وه.
د رسل اسلوب سره دفلسفې د نورو تاریخ پوهانو دا په ښکاره ډول څرګندوي چې د فلسفې پېل له طالیس، انېګزیمانډر او له انګزیمېنس څخه کوي، د چا د تفکیر او درس انداز چې د فلسفې او سائنس بنیادي فطرت تشکیلوي. دتفکیر او علم دغه فطرت د ارټ او شاعرۍ له هیئته په بشپړه توګه توپیر لري، دغه خاموش توپیر د دې دوارو ډسپلین تر مینځ د سقراط په وخت کښې د شاعرۍ او فلسفې ترمینځ د بدۍ شکل اخلي. د سقراط په تورونکو کښې که څۀ هم انایتهس د سیاست دانو او لایکن د ورسګرو(rhetoricians) او خطیبانو له پلوه ؤ خو په عدالت کښې د افلاطون د ژغا "بخښنه" ''apology'' ورسګیر میلیتهس ؤ چا چې د شاعرانو ترجماني کوله (Plato, 2013). د ملیتهس د شاعرانو له اړخه په سقراط هغه تور ؤ کوم چې د سیاست دانو او

* د دجله او فرات دریابونو تر منځ څیمي ته وئیل کېږي چې په عربي کښې ما بین النهرین ورته وایي چېرې چې د بابل او عکادي زاړۀ تهذیبونو وجود درلود

ورسګیرو له اړخه په سقراط ؤ. سقراط ملیتهس ته وئیلې ؤ چې په پینځه سوه رایو کښې دی په دوه سوه اتیا رایي بریالی د انایتهس او لایکن په مرسته شو. د شاعرانو سره له ورسګیرو او سیاست دانو له اړخه په سقراط تور ده دې ؤ چې دی ده ایتهنز زلمي بې لارې کوي او د ولات او اولس منل شوي خدایان نهٔ مني. د سقراط وراسه د شاعرانو په هکله هغه وه کومه چې د سیاست دانو او ورسګیرو په اړه وه، د چا په وجه چې د سقراط په اند د ایتهنیانو عقلونو زنګ کړی وو. سقراط زیاته کړه چې ده شاعرانو ته د دوی له سندرو څهٔ په دې هیله وړاندې کړلې چې له دوی څهٔ زده کړې خوحال دا ؤ چې دوی په خپلو سندرو نهٔ پوهېدلو، هن تر دې چې اوس به زه په تاسو کښې څوک را پورته کړم چې د هغو سندرو به تر دوی ښهٔ معناوي ورکړي، له دې څخه ده ته څرګنده شوه چې شاعران شعر د عقل او زدکړې له کبله نهٔ وایي دوی هم لکه قسمت شوونکې ډېرې ښکلې خبرې تر خوله راباسي مګر د هغو په معناؤ نهٔ پوهېږي. (کمال خان شیراني , 2015)، د سقراط په خیال په شاعرانو کښې عقلي څېړنه نهٔ وي. شاعر فقط نقال وي، شاعران فقط د خدایانو شارحین دي (Albert Hofstadter, 1964) سقراط چې ځان يې د ایتهنیانو د پاره غوباړې یا ورازګه ( Gadfly) ګڼله، که څهٔ هم ښبتی په ګړد ایتهنز پوري وی خو بې خوبه کړې یې شاعران او سیاست دانان تر هرچا ډېر ؤ، د ده او میلیتهس ترمینځ وراسه دسقراط د هغو ورسو کړې، وه کومې چې پلېټو په خپلو مشهورو ژغاوو ایون (Ion) او ري پبلک (Republic) کښې ذکر کړې دي. د سقراط د ارت په هکله بنیادي سوال په ایون دا ؤ چې شاعري علم (Knowledge) نهٔ بلکې الهام (Inspiration) دی. له الهام څخه د سقراط مقصد دا ؤ چې ښهٔ شاعري اصلا د شاعرۍ او ساز دېوي میوز (Muse ) ته ښهٔ غوږ ږدنه ده. ایون د هومر د شاعرۍ نوموړی تلاوت کونکی (Rhapsode) د اېسکلېپیوس (د شفا او د طب خدای) له مېلې کامیابه ستونبدونکی ؤ چې له سقراط سره په وراسه کښې بوخت شو، د سقراط له ایون سره په دې وراسه کښې د شاعر او شاعرۍ په فطرت خبرې او د مقناطیس تشبیه ( magnet analogy) د افلاطون د میمېسیز تهیوري (Plato's Theory of Mimesis) بنیاد کېښود. د سقراط نظر دا ؤ چې شاعرچې کله شعر پرله پوري کوي په دې مهال دی خپل

عقل او حواس بائيلي يعني له خپل چاپېرياله وځي په مېګنېټ (مقناطيس) ميوز پوري نښلي، لکه طوطي هغه څهٔ وايي کم چې د ده دننه روح د ميوز بوټکی قبلوي، دغه حالت ته سقراط د enthusiasmos حالت وايي، چې مثبته معنا وجد يا تر څهٔ حده لېوالتيا او منفي معنا يې جنون او لېونتوب دی. هم په دې معنا دی شاعر د خدايانو شارح او ايون د يو تلاوت کوونکي په حيث د شارح شارح ګڼي The interpreter of interpreters. سقراط خپل دليل نور هم په دې کلکوي چې ايونه ته چې کله د غم سندري اورېدونکو ته اوروې، اوښکې تويوي او چې کله د ننګ حماسې لولې هيجاني او د ولولې کيفيت ته ننوځي حالانکې په دې مهال خو نهٔ ته په غم کښې يې او نهٔ په جنګ کښې او نهٔ د غم او جنګ په هغه حقيقت پوه يې له کومه جنګه چې هومر رغبږي دلته ته فقط نقال يې، هم دغسي هومر هم د هغه کيفيت نقال دی کله چې ده ته د روح دننه خپل لېونتوب ميوز ورغوې ته د هومر او هومر د ميوز پېښې کوې (Plato, Ion, 2015) او پېښې کړنه علم او پوهه نهٔ ده، د ساعت تېري تر حده خو درسته ده خو چې د علم، پوهې، هنر او د اولس د تربيت دنده پر سر واخلي بيا نو وايم چې شاعران، اېکټران دې ټول له ولاته ورک کړي. افلاطون د سقراط فکر نور هم په وړاندې يووړ، يو خوا خو يې هغه ټولې ورسې لاس ليک کړې کومې چې د سقراط او شاعرانو تر مينځ په دې هکله کېدلې بل يې د فکر په يو منطقي چوکاټ کښې کېښودې.افلاطون د فلسفې د درې واړه څانګو اکزيالوجي (axiology)، اېپيستېمولوجي (epistemology) او انټالوجي (ontology) له پلوه څهٔ نا څهٔ خبرې د شاعرۍ او ارټ په هکله وکړې. د افلاطون د تنقيد مغز د هغه د ميمېسيز تهيوري د شاعرۍ او ارټ وهم، غولول (illusion) او پېښې (imitation) ثابتونه ده چې انساني فکر له حقيقته لېري کوي. خو دلته له حقيقته ليري کېدنه داسي نهٔ ده لکه په مادي نظر (materialist view) چې ورته کتنه کېږي، چې حقيقت تر مادي وجود محدود کړي. د افلاطون نظر د حقيقت په

هکله فکري دی. افلاطون د سقراط د روح او فکر په هکله بحث کوم چې سقراط تر مرګ یوه ورځ وړاندي له فاییډو* سره کړی ؤ د خپل ایډیالزم د پاره اساس ګرځوي او هم د افلاطون د ایډیالزم (Idealism) پر فلسفه د هغه د حقیقت معنا تکیه کوي. حقیقت د افلاطون په اند تصورات (ideas) دي. تصورات اصل او په خارج کښې موجود څیزونه د ذهني تصوراتو نقلونه دي. دی په دې حقله په ریپبلک کښې د کرسۍ مثال راوړي چې د کرسۍ اصل د ترکاڼ په ذهن کښې د کرسۍ تصور دی، د خارج کرسۍ دذهني کرسۍ عکاسي کونکی نقل دی، نو ذهن که د خارج په کرسۍ کښې بند شي، یعني په مادیاتو کښې بند شي دا به له حقیقته په یوه درجه لېري شي، اوس که موږ آرټ ته ځیر شو نود کرسۍ حسي تصویر د خارجي کرسۍ نقل دی، یعني د نقل نقل (the copy of copy)، لنډه دا چې آرټ او شاعري چې د نقل نقل دي په دوه درجې له حقیقته (تصور) لېري دي، او د علم او فلسفې کار د حقیقت (reality) پلټنه ده، لهذا ارټ او شاعري د حقیقت د پلټني په میان کښې خنډ دي. (Plato, The Republic .2007)

په شاعرۍ د فلسفې لوړوالی (superiority) د افلاطون په مثالیت (idealism) کښې چې په کوم حیث د افلاطون شاګرد ارسطو ( Aristotle)ته درس شوی هسې د ارسطو په فکري نړۍ کښې نۀ شوی پاته. ارسطو له افلاطونه سره په دې خو اتفاق ؤ چې شاعري د حقیقت پېښې (imitation) دي خو داسي نۀ لکه افلاطون چې یې ګڼي. افلاطون خو اول د آرټ او شاعري تر مینځ توپیر نۀ کوي، دویم د کرسۍ تصویر تراشي فقط لکه د هینداري د کرسۍ عکس ګڼي، مګر ارسطو دې ته تخلیق وایي. دی زیاتوي چې شاعري دمثال په توګه د انسانانو عکاسي داسي کوي لکه څنګه انسانان دي، یا یې تر هغه څۀ کم چې څنګه دوی دي، او یا تر هغه څۀ زیات، هم دغه د تخلیق صفت دی چې موږ ته د حقیقت (reality) دکمال (idealized) تعبیر راکړي. (S. H. Butcher

* فائیډو د سقراط، فائیډو او ملګرو تر منځ هغه ژغا ده چې د سقراط تر مرګ یوه ورځ وړاندي په بندي خانه کښې د دوی دوی تر منځ د روح، پوهي په حقله شوې وه. افلاطون په دغه ورځ ناروغه ؤ، د دوی تر منځ د مجلس قصه د سقراط له مرګه پس فائیډو و اېچې کرایټس ته کوي. افلاطون د فائیډو او اېچې کرایټس تر منځ دغه ژغا د فائیډو په نوم لیکلې ده.

(1902. افلاطون د ښۀ نۀ ښۀ شاعري هم د فطرت عکاسي ګڼي خو ارسطو هغه د عکاسي نۀ زياته، بلکې کله خو د فطرت د مظهر ( phenomena) نۀ لا هم زياته د فطرت حقيقت نزدې ګڼي، چې ډېر کله شاعري د انسان ذهن د فطرت له خارجي مظهره د فطرت حقيقي تصور ته نزدې کوي. هم دغه وجه ده چې افلاطون شاعري د سيوري سيورى ګڼي او له آرټ او انځور ګري سره يې ورته کوي خو ارسطو يې له آرټ څخه بېلوي او له ميوزک سره يې بږدي (S. H. Butcher , 1902). ارسطو که څۀ هم خپل کتاب (the poetics) د رد په نيت نۀ ؤ ليکلى خو په مهذبه طريقه د افلاطون په شاعري د تنقيد ځواب ؤ، خو مقصد يې د ښۀ نۀ ښۀ شاعري، ډرامه او ټرېجيډي ليکني ته لارښودنه وه. لنډه دا چې ارسطو د ميان لاره غوره کړه، چې د افلاطون د تصوراتو د اصليت له نظريې انکار نۀ کړي خو خارج ته هم مقام ورکوي، دفلسفيانه طرز استدلال لوړوالى هم مني خو جذبات هم د اخلاقياتو له ډګره په بشپړه توګه نۀ اوباسي لکه چې وايي ؛ عقل کامل بې له لېونتوبه کله هم وجود ته نۀ دى راغلى؛(Eiss, 2014) . له ارسطو وروسته په ټولينز عنعناتو کښې هم بلکې فلسفه د يونان په حکومتي چارو کښې په خپل ځاي جوړولو کښې بريالى شوه،د سکندر اعظم (323 قبل ميلاد) د اقتدار سمبالونه او او نوي امپراتوري استعماراتي ملکونه جوړولو کښې په مصر کښې داسکندريه ښار وجود ته راځي. له سکندر اعظم وروسته د اسکندريه ښار بنسټ کېښودنکې بطليموس سوتر اسکندريه ( Ptolemy Soter 323-283) د يوناني مدنيت ( Hellenism)، د علمي او نړيوال تجارت مرکز و ګرځاوه. دتجارتي چارو په وجه د هندوانو، فارسيانو او يهوديانو تله راتله او له يوناني کلتور سره مخ کېدني چې کم کلتوري تکثريت (cultural pluralism) ته وده ورکړه (Trumble, 2003)، دې تکثريت فلسفې ته هم نوى رنګ ورکړ. د يوناني فلسفي فکرونه د فارس او هند له مشرقي عرفاني افکارو سره مخامخ کېدني د فلسفې سائنسي بحثونو ته هم عرفاني او صوفي مذهبي جامې ور اغوستل شروع کړ. د وخت له تېرېدني سره په يونان کښې د اېتهنز زوال، د سپارټا عروج او د ارسطو د افلاطون په درسونو کښې د فېثاغورث د

عرفاني نظرياتو ننوتنې اوپه سکندريه کښې د کلاډيوس بطليموس (Cladius Ptolemy 100-170 AD) افکارو فلسفه او عرفانيت يو په بل کښې داسي و نغښتل چې د پلوټينس (Plotinus 204-270 AD) و نوافلاطونيت ته يې بلا مؤثره لاره هواره کړه. پلوټينس د افلاطون د سېمپوزيم* خير او حسن يا حسن ازلي را اخلي هغه د ژوند، ژوند، فطرت، روح او د ژونداو د ژوند د مطلب اساس ګرځوي. په سېمپوزيم (محفل) کښې د وينا په مهال سقراط د ميني تقسيم په عشق حقيقي □او عشق مجازي□ کښې کوي، او زياتوي چې عشق حقيقي د پوهې عشق دی(Tom Griffith and Peter Forster, 1993). هم دغه د پوهې عشق د پلوټينس په فلسفه کښې د حسن ازلي مينه ده. د فلوټينس په خيال انسان د حسن يو ګالونکی او غير فعال (passive) کتونکی نهٔ دی بلکې حسن د انسان د ذهني تصوراتو ټولګه ده د څهٔ و شاته چې د انسان روح او عقل فعال دي، د روح عمل خواهش او د خواهش معنا لټون دی، چې انتهاء يې ده تکثيريت شاته د يوالي کتنه ده. خو دا يوالی د تکثيريت په غېږه کښې فقط تجربه کېږي. لهذا په موجوداتو کښې حسن اصلاً د حسن د ذهني تصور له کبله دی، چې په موجوداتو کښې څرګندېږي، لکه د افلاطون پلوټينس له دې انکار نه کوي چې بهرني ځيزونه (objects) د ذهني تصوراتو نقل دی خو په آرټ کښې د دې بهرني ځيزونو انځور ګري د دې ځيزونو، يعني د نقل نقل نهٔ دی بلکې نېغ د تصوراتو نقل دی. هم دا وجه ده چې په تصوراتو کامل تفکر د ځيزونو انځورګري د هغوی د بهرني فطري وجود نهٔ ډېره ښهٔ کولای شي.(Habib, 2005) د پلوټينس په خيال روح خواهش تخليقوي، خواهش لټون ته وده ورکوي، لټون د څه؟ لټون د حسن د کوم حسن ؟ د کوم حسن تصور چې په ذهن کښې دی چې دحسن ازلي يوه وړه ترزګه ده(spark) . لهذا روح

* سېمپوزيم په يونانۍ کښې محفل يا و مجلس ته وئيل کېږي، افلاطون له خپلو مشهوره ړغاوو يوه په دې نوم لېکلې ده چې د اګاتون نومي شاعر په بلنه د شرابو څښلو يو محفل جوړېږي سقراط هم پکښې برخه اخلي، ګڼ شمېر وګړي د محبت، عشق او حسن په موضوعاتو خپل خپل اند وړاندي کوي وروسته سقراط په هم دې موضوعاتو خپل نظر وړاندي کوي په دې مهال افلاطون هم شتون لري او دغه ورسې د سېمپوزيم په نوم ليکي.

□ Divne Eros مسلمانانو صوفيانو په عشق حقيقي سره ژباړلي دي

□ Vulgur Eros چې ژباړه يې په عشق مجازي يا عشق شهواني سره کېږي.

انسان د فطرت په ښکلا کښې مستوي او د انسان دماغ د حسن په تصور باندې تفکر ته هڅوي، دغه تفکر د افلاطون خیر (The Good) د حسن ازلي، یا د پلوټینس د یوه (the One)ننداره کوي، چې هغه فقط تجربه کېدلئ شي، د دې یون قصه، په ساده لفظونو کښې ممکن نۀ وي چې وشي، د دې دپاره د مجاز ضرورت وي، له تشبیهاتو کار اخیستل وي، ځکه شاعري وجود ته راځي، آرټ وجود ته راځي (Albert Hofstadter, 1964). دپلوټینس اینیاډ (Ennead)د فرفوریوس (Porphyry)له کبله په عیسایت کښې، یهودي اوپه خاصه توګه وروسته په مسلمانانو صوفیانو ډېر اثر کېښنود. د پلیټونس مابعدالطبیعاتي کوسمولوجي په درې څېزونو ولاړه وه، احد، عقل او روح، عقل او روح له احده داسي بهېږي لکه له لمره چې دلمر وړانګې را کښته کېږي خو چې کله په مادي جسم کښې ګیر شي دا د روح فراق وي له احده،ځکه خو روح د ښکلا لوري ته د خوټکېدني په حیث داری وهي. د تصوف کار د بندي روح خلاصی وي خپل اصل ته، خپل مبدأ ته(Corrigan, 2005) .همدا وجه ده چې په مسلمانانو کښې فلسفي خپل وګړي صوفیان کړ. د خوند خبره خو داده چې هر فلسفي هم شاعراو هم صوفي ؤ.* په مسلمانانو کښې له ابن سیناء نیولې تر ابن عربي، ناصر خسرو اسماعیلي، یعقوب سجستاني، او خیامه پوري، د چا له کبله چې فلسفې په ټولنه کښې وجود درلود هغوی تر ډېره حده خپل افکار د شاعرۍ په مرسته بیان کړل.
د پلوټینس د نوافلاطونیت اثر یواځې په اسلامي ټولنه نۀ بلکې د منځني دور په عیسایي او یهودي ټولنو هم ؤ. برټرنډ رسل د ډانټې د فردوس په هکله لیکي چې په ادبي، ذوقي او صوفي حیث د پلوټینس د تجلي جمالیاتو مثال ډېر کم دی، یود ډانټې د فردوس (paradiso) څۀ حصه د هغه په مقابله کښې راوړل کېدای شي خو حقیقت دا دی چې هغه هم له پلوټینوس څخه اخیستل شوي دي (Russell, 1996). لنډه دا چې په

* په دې مځکه کښې تر اوسه لا په دې مفکوره خبري دي، چې د مسلمانانو مشهور فلسفيان، فلسفيان وو هم که نۀ کلامیان وو. د مسلمانانو علم الکلام اصلا د فلسفې په رڼا کښې د دین څېړنه وه، ځکه چې د فلسفې دفطرت لومړني شرط له لومړنۍ مفروضې (pre-supposition) څخه خلاصون ؤ. په دې

منځني دور کښې شاعري دلاطینۍ اصطلاح ancilla philosophiae په حېث، د فلسفې وینزه پاته شوه(Bogumil-Notz) . له تومس اکوینس (1224–74) څخه وروسته د مېکاولې (1469–1527) فرانسس بیکون (1561–1626) او تومس هوب (1588–1679) چې د منځني دور او د رینېسانس تر مینځ د پل حېثیت لري په فکرونو کښې د فلسفې مرکز د انسانیت پرستۍ شعور خپرېدنه وه، په دې وخت کښې آرټ او شاعري د فلسفې دغه سیاسي او ټولېنز کار له فلسفې سره سم متوازي پر مخ یووړ. فلسفې دشاعرۍ په مرسته دانسانیت پرستۍ نظریه خپروله چې ټولنه د منځني دور له تیارو د یو نوي لمریز صباون پرلوري یوسي (Duignan, 2011). فلسفې د رینېسانس په څوکه د او د نوشت په پیل کښې یو داسي زوی (سائنس) ته زوکړه ورکړه چې موروالی یې پکښې وبائیلی، چې فلسفه پکښې تر اپیستېمولوجي محدوده کیږي. د علمونو په دې تقسیم کښې آرټ ادب او شاعري د زدکړې ځان له ځانګې ګرځې، دلته که دفلسفې له پلوه په شاعري، ادب او آرټ بحث کیږي هم، هغه د نوې فلسفې د مختلفو فکري مسلکونو په چوکاټ کښې کېږي.د ډېکارټ او سپاینوزا عقلیت (rationalism)، د بارکلې، هیوم او جان لاک معروضیت (Empiricism) د کانټ او هیګل د تصور اصالت (idealism) او په خاصه توګه د کیرکیګارډ، پال سارتر او مارکس موجودیت (existentialism) د جمالیاتو په برخه کښې له شاعري او آرټ سره په خپل خپل چوکاټ کښې هم آهنګه دي. بلکې یواځې هم آهنګه نه، شاعري او ادب د دې فکري مسلکونو د اظهار ژبې پاته شوې(Duignan, 2011) . دنظریاتو او افکارو دغه اظهار د مثال په توګه د رابرټ کرېلې، کېرکیګارډ، فرېډریچ نټشې په فلسفیانه شاعري او د سارتر، شېکسپېر او لیو ټالسټای په فلسفیانه فیکشن کښې فلسفه او ادب یو بل سره د یو بل له بېلوالي دومره نزدې کړ. چې د لنډېز په توګه وئیلای شو چې د افلاطون او سقراط له شاعري او آرټ سره شخړه په نوې فلسفه کښې په داسي پړاو کښې تمامه شوه چې شاعرۍ آرټ او ادب له فلسفې سره متوازي ځای هم ونیو، خو په یوبل یې اثر هم داسي وشو چې یو د بل د تشریح کړني مؤثره وسیلې دي.

**Bibliography**


- Albert Hofstadter, R. K. (1964). Philosophies of Art and Beauty: Selected Readings in Aesthetics from Plato to Heidegger. Chicago: University of Chicago Press.

- Bogumil-Notz, S. Philosophy and Literature.

- Corrigan, k. (2005). Reading Platinus: A Practical Introduction to Neoplatonism. Indiana: Purdue University Press.

- Duignan, B. (2011). Modern Philosophy From 1500 CE to The Present. New York: Britannica Educational Publishing.
- E. D. A. Morshead, E. H. Plumptre, B. B Rogers. (2009). Nine Greek Dramas By Aeschylus, Sophocles, Euripides and Aristophanes. New York : Cosimo Classics.
- Eiss, H. (2014). Insanity and Genius: Masks of Madness and the Mapping of Meaning and Value. Cambridge: Cambridge Scholars Publishing.
- Habib, M. A. (2005). A History of Literary Criticism and Theory: From Plato to the Present. Malden: Blackwell Publishing.
- Plato. (2015). Ion. UK: Book Classic.
- Plato. (2013). The Apology. New York: Sheba Blake Publishing.
- Plato. (2007). The Republic. Indiana : Focus Publishing.
- Russell, B. (1996). The History of Western Philosophy. US: Touchstone.
- S. H. Butcher. (1902). The Poetics by Aristotle: Edited with Critical Notes and A Translation. London : Macmillan and CO., Limited.
- Sharma, R. (1902). An Analytical Evaluation of Poetics-Aristotle-A Descriptive Edition. London: Macmillan and CO,. Limited.

- Tom Griffith and Peter Forster. (1993). The Symposium of Plato. Los Angeles: University of California Press.

- Trumble, K. (2003). The Library of Alexandria. New York: Clarion Books.

- کمال خان شېراني .(2015) .د افلاطون ړغاوې . کوټه : پښتو اکېډمي کوټه.


فوټ نوټونه

(1)د دجله او فرات دریابونو تر مینځ سیمي ته وئیل کیږي چې په عربي کښې ما بین النهرین ورته وایي چیري چې د بابل او عکادي زاړه تهذیبونو وجود درلود

(2)فاییډو د سقراط، فاییډو او ملګرو تر مینځ هغه ژغا ده چې د سقراط تر مرګ یوه ورځ وړاندي په بندي خانه کښې د دوی تر مینځ د روح، پوهي په هکله شوې وه. افلاطون په دغه ورځ ناروغه ؤ، د دوی تر مینځ د مجلس قصه د سقراط له مرګه پس فاییډو و اېچې کرایټس ته کوي. افلاطون د فاییډو او اېچې کرایټس تر مینځ دغه ژغا د فاییډو په نوم لیکلې ده.

(3)سېمپوزیم په یوناني کښې محفل یا و مجلس ته وئیل کیږي، افلاطون له خپلو مشهوره ړغاوو یوه په دې نوم لېکلې ده چې د اګاتون نومي شاعر په بلنه د شرابو څښلو یو محفل جوړیږي سقراط هم پکښې برخه اخلي، ګڼ شمېر وګړي د محبت، عشق او حسن په موضوعاتو خپل خپل اند وړاندي کوي وروسته سقراط په هم دې موضوعاتو

خپل نظر وړاندي کوي په دې مهال افلاطون هم شتون لري او دغه ورسې د سېمپوزیم په نوم لیکي.

(4) Divne Eros مسلمانانو صوفیانو په عشق حقیقي سره ژباړلی دی

(5) Vulgur Eros چې ژباړه یې په عشق مجازي یا عشق شهواني سره کېږي.

(6) په دې مځکه کښې تر اوسه لا په دې مفکوره خبرې دي، چې د مسلمانانو مشهور فلسفیان، فلسفیان وو هم که نهٔ کلامیان وو. د مسلمانانو علم الکلام اصلا د فلسفې په رڼا کښې د دین څېړنه وه، ځکه چې د فلسفې دفطرت لومړنی شرط له لومړنۍ مفروضې (pre-supposition) څخه خلاصون ؤ.

## د ناول"طالبه خدای که به ملا شې" تحلیلي څېړنه
## (د تحلیل نفسي په رڼا کښې)

## A Study of The Novel "Taliba Khudi Ka Ba Mullah Shey": in the light of Psycholanalysis

Sharif Khan*
Abdul Rehman Kakar†
(Correspondin Author)

**Abstract**:

* M.Phil Scholar, Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta
† Lecturer Dept. of Pashto, University of Balochistan, Quetta